# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO »  پیژندنه !



## خوارلسمه برخــــه

دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

## دناټــوشاتــه دپـــیښواودوراڼـــیو څـــرک!

ناټودروسیې په اړه داوره سره لوبه کوي ، اوبل داچې که دافغانستان اوپاکستان په اړه هم ددغو دووهیوادونومسائل اوپیښي یوځای اویوشانته سره ترڅیرنی لاندی ونیسو نودلته هم  ناټوددینامیت سره لوبه کوي  .

ناټوهیڅ هم نه سی کولای  او ونسوکړای چې نه په افغانستان اونه په صربستان کې امنیتی حالات تثبیت اووضعیت نورماله کړي  ددی نظامي تړون یوازنی کار دپیشقابونواوظرفونوماتول دی اوبس .
ناټوتردا اوسه پوری دیوه نابکاره نظامي ځواک ترسرلیک لاندی  ځان یې څرګنده کړی دی  اوپه کابل کې عصبانی امریکاییان ناټوذخیری پرمیز باندی کیښنوی یې ، اوددیپلوماټیکوچاروپه  برخه کې دناټو لاسته راوړنی هم تردی نه ښه نه دی ، اودا به پرځای وي چې د ختیځې اروپاپه هیوادونوکښې ددی  نظامي تړون دسیاستونو په اړه یوه لنډه کتنه وسی اوترڅپل کتنی لاندی یې تیر کړو.

په دا وروستیوڅوکالنوکښې ناټودلویدیز دیو واک اوتګیه ګاه په توګه دشوروی  دنظامي ګواښونوپه وړاندی  ستر رول  یې لوبه ول . مګردا اوس په یو داهسی سازمان اوښتی دی چې عملی کارونه نلري ،اما کله کله زیار باسی چې ځان ډېر مهم وبریښوی اوراڅرګنده کړی  .

د(۲۰۰۸) م کال داګوست دمیاشتی پر(۲۱مه )یوویشتمه نیټه باندی په بروکسیل کې   دناټودغړیو هیوادونودبهرنیوچارووردوزیرانوغونډه اوراټولیدل  د دا وروستنی ماتی دپاره یوازی  دیوپوښ جوړه

ول وناټوته وو،ناټو هیڅ شی یې ونه سوکړای چې په ګرجستان کې دروسیې دلاسوهنوڅخه مخ نیوی وکړی اوددی لاسوهنوپه وړاندی یوشې وړاندی کړی اویوه کړنه ترسره کړی .

په حقیقت کې دغه لاس وهنه یې مخته بیول چې داوکرائین اوګرجستان په مغز کې یې وررننه باسی او وهغوته اجازه ورنه کړی ترڅودروسیې دپلو(سراحداتو) ترڅنګ دی لویدیز تشه لوبه دی ترسره کړ ي . روسیه چې دشوروي اتحاد دړنګیدو وروسته کولای سوای اوکیدی سوای چې دناټوغړی دی سی ،اوسمهال دختیځی اروپاپه پولواو(سرحداتو) کې دیوی دسیسه جوړه ونکی په څیر اوښتی دی .

دناټودپاره هیڅ ډول اړتیا موجود نه وو چې دبالټیک هیوادونه او دروسیې دسویل وخواته هیوادونه دی دشمالی اتلانتیک ونظامی تړون ته یې را ګډ کړی او ودوي ته امنیتی ضمانت ورکړی ،او دپولنداودچک په هیوادونوکې هم هیڅ ډول استراتیژیک اړتیا دامریکا دراکتی دفاعی سپر دځای پرځای کیدو دپاره وجود نلري . دغه کړنی بیله داچې داهسی ښکاری چې ناټوددی هیله مند دی چې خپل ځان دپرغټ وښیی بله خبره نسته چې دپینتاګون بازان دخپلوموخواوګټودمخته بیولوپه سبب دهغوی څخه ګټه ترلاسه کوي اودهغو سرچیني ورختموي .

همداسی کړنی اودګامونواوچته ول نسی کیدای چې روسانو په خشم نه کړی اودوي راونه پاره وي چې همدا ډول هم وسول .

د(۲۰۰۸)م کال داګوست په میاشت کې دامریکا جمهورئیس جورج بوش اعلان وکړ چې « دنفوذ لاندی پخوانیوسیموکې » دوران پای ته رسیدلی دی . نوکه داهسی دی ، نودڅه دپاره په سیمه کې داستونزی دی ،که دنفوذبرلاسه کیدل نه وی ،نوپه همدی ډول سره ناټو یې دروسیې وپلواو(سرحداتو) ته ولی نږدی کړیدی ؟ اوبیا دبوش طرحه دډموکراسی دتامینولودپاره په اسلامی نړی کې دکوم لړلید پربنسټ دی ؟.اوهمدارنګه هم روسیه اوهم ایران په اوسنی معاصر وخت کې دامریکا دوه جوړ سوی لاسی اسکلیټونه دي اوپه دی هکله پوره دلایل هم موجود دي چې ددښمنانوپه څواکونوکې ځان احساسوی . په همدی ډول سره،که دوي بدی کړنی ترسره کوي ،له دی کبله دی چې ددوي سیاستونه دبیری (ویری ) دسیاست تحت الشعاع لاندی راغلی دي .

روسیه دلویدیز دپاره ګواښ نه دی . ددی هیواد پولی او(سرحداتو) یود بل دبیریدودپاره یوه وسیله دبی ثباتی اودناامنی په رامنځته کولوسره اوښتی دی ( ددی پرځای ناټوکولای سوای چې دخپلودفترونواودکار دکوتیبوپه مخکې نوي بیرغونه ځوړند کړي ؟) .روسیه په پوره اندازی سره خپل ځان یې دیوقاطع او خشمیدونکی هیواد په توګه یې وښود اوڅرګنده یې کړ . نو ولی به ددی نا امنی اوبی ثباتی درامنځته کیدودپاره هغه دلازیات ټینګ دریځ په نیولوسره یې تشویق کړو .

# پرناټوباندی دروسیې ګوت نیونی :

دشمالی اتلانتیک په نظامی تړون،دناټوپه سازمان کې دروسیې استازي دمتعارفو ځواکونودتړون معاهده یې یوه استعماری معاهده وبلله اوپه کلکه یې ګوتنیونی وکړ ل .
د شمالی اتلانتیک په نظامی تړون،دناټوپه سازمان کې دروسیې نوي استازی « دیمیتری راګوزین » د«راسیسیکا ګازتا» دروځپانی سره په یوه مرکه کې په اشاری سره داروپا **دمتعارفوځواکونودتړون** **[Conventional Armed Forces in Europe](#) (CFE)اصلی** ماهیت چې دسری جګړی دوخته

څخه رامنځته سوی دی په دی هکله يې وويل : « موږباید په امنیتی سیمو اوحوزیوکښې داستعماری اړیکوڅخه ځانونه خلاص اوخپلواک کړو» راګوزین خپل دخبروپه ادامه کې د شمالی اتلانتیک د نظامی تړون دناټوسازمان وغړیوهیوادونوته يې په دی بیان کې وويل : « دوي باید په دغه موضوع باندی وپوهیږی چې نه سی کولای دنوروامنیت دخطرسره مخامخ کړی اوخپل دځان امنیت تامین اورامنځته کړی» . سیاسی څیړونکی اودسیمیزچاروکارپوهان وایی ، دپوتین لخوا دراګوزین ټاکل اوتعینول ودی پوست ته ددی ښکارندوی دی چې کرملین غواړي دناټوپه وړاندی په د ی اړه خپل دریځ ټینګ کړی .

## روسیی وناټو ته یې ګوت څنډنه وکړ:


دروسیی دبهرنیوچارودوزارت یوجګپوړی چارواکی په ګوت څنډنی سره یې دناټو وسازمان ته یې اعلان وکړ،په هغه صورت کې که وناټوته دګرجستان او داوکرائین دپیوستون اوغړیتوب دپاره زیاراوکوښښ رامنځته سی نو دروسیی هیواد به داروپادمتعارفوځواکونو دتړون څخه وځي .

دروسی دبهرنی چارودوزارت دغه جګپوړی چارواکی چې نه یې غوښتل نوم یې ومطبوعاتواشواسی دروسی دانټرفکس وخبری آژانس ته په یوه لنډه مرکي کې وويل:وناټوته دګرجستان اوداوکرائین دپیوستون اوغړیتوب سره سم به په اروپاکې دمتعارفوځواکونو دتړون سرلیک به مشخص کړی سي .
دغه جګپوړی چارواکی په دی هکله یې زیاته کړه : په هغه صورت کې دناټوددغه پیل سره سم روسیه به د اروپادمتعارفوځواکونودتړون څخه وځي .
دروسیی هیواد تیرمیلادی کال دنوامبرپه میاشت کې دناټوپراختیای باندی په یو اعتراض کې داروپادمتعارفوځواکونودتړون اجراات یې دتعلیق په حالت کې راوستل .

ددی تړون پربنسټ په اروپاکې دمتعارفوځواکونومتعارفی وسلی دهغه جملی نه ټانکونه ،دځواکونودانتقالولووسایل اوتوپونه چې په روسیی پوری اړه لري اوددی هیواد په اروپایی سیمه کښې لږسویدي اواروپایی پلټوونکی په پرله پسی توګه یې ددی هیواد دنظامی مرکزونوڅخه لیدنه اوکتنه کول ،نودغه تړون له دغونوموړی موادوڅخه عبارت دی .

## دناټوشتون بیله کوم دلیل څخه دی :

«الکساندر رار»




دالمان(جرمنی) دبهرنی سیاست دشورا کارکارپوه دنوویستی دخبری آژانس دخبرلیکوونکی سره په یوی تیلیفونی خبراتروامرکه کې یې وويل : په ناټوکې دغړیو هیوادونویوشمیرمشرانو داوکرائین اودګرجستان دپیوستون اودغړیتوب دموضوع شاته غورځول ،ددی مسئلی مصلحت کول ،دیوداهسی سوري سوي سازمان شتون بیانوي .

ده وويل : « دناټومشرانوپه دی غونډه کې د اوکراین اودګرجستان دپیوستون اوغړیتوب څخه یې لاس واخیست ،اودایې وښودل چې دغه یووالی هم لکه دعراق دوخت جګړه کې ،په یوسورۍ سره اخته سوی وو» یوشان ته دی . دده دویلوپر بنسټ ،په دی سازمان کې دروسیی پرمسئلی باندی هم اختلافونه رامنځته سول اوغړی هیوادونوپردووډلوباندی وویشل سول،په دی اړه یې وویل : روښانه اوښکاره خبره ده چې « دناټوپه دننه کې دپخوانیواروپایی هیوادونه څخه یوه جبهه جوړه سوی اورامنځته سوی ده چې دروسیی سره په ګډه په اروپاکې دامنیت دټینګولواوتامینولو غوښتونکی دي ،اودمسکوسره دپراخه خبراتروترسره کول دهغه جملی څخه دانرژی په برخه کې ، ددی جبهی دلړلیدونوڅخه ګڼل کیږی ،مګردامریکائیانو وجبهه دنوي اروپا هیوادونوپه ملګرتیا سره دادی اوهغوی غواړی چې دوتلودنوی سیاست پربنسټ دروسیی وتل اوایستل داروپا څخه دغه کړنه ترسره کړی .»

دغه دسیاسي اوډیپلوماتیکوچاروکارپوه وویل ، دناټودعمرنیټه اووخت پای ته رسیدلی دی په دی هکله یې زیاته کــړه : «یونظامـــی سازمان اوبلاک جـــوړ اورامنځته ســـوی ووترڅود کمو نیزم دایدیالوژی دتیری په وړاندی دخپلواکه نړي څخه ساتنه وکړي ،مګر داتحادشوروی سوسیالیستی دجمهوریتونودړنګیدواونړیدوڅخه کابو(۲۰) شل کاله تیر سوي دي نورنوموړ دوه قطبی نړي نه لرو،ناټوباید هرومردځان دپاره یوبل رول او بل یووالی اونورملګري پیداکړي .

## امنیتی ستونزي بیله دروسیی دګډون څخه نه حلیږی :

**دروسیی دبهرنی چارو وزیر« سرګی لاوروف » په (۲۰۰۸) م کال کې دمارچ دمیاشتی پر(۱۵) نیټه باندی په مسکوکې داوکرائین دبهرنی چارود وزیر«ولادیمیر اوګریزکو» سره په لیدنه کتنه اوپه خبراترواویوه مرکه کې اعلان وکړ په نړي کې هیڅ یو امنیتی ستونزه اوپرابلم بیله دروسیی دشتون څخه حل کیدی نه سي .**

**ده دناټودغوښتنی په هکله داوکرائین دغړیتوب په اړه یې وویل روسیه غواړي چې په دغه وپوهیږی چې دناټودپراختیا موخه دختیځ پرلور دڅه دپاره دي ؟ .**

**لاوروف زیاته کړه : په هیڅ ډول سره دنړي امنیتی ستونزي ،دهغه جملی څخه دمخدره توکو دقاچاق پرضدمبازره کې ،دهستوی اواتومی وسلی دنه پراختیا په مبارزه کې بیله دروسیی دګډون څخه نه حلیږی .»**

**ده په همدی ډول سره وویل چې یوبله مسئله هم سته دی اوروسیه ددی مسئلی په هکله هم څارګر ه ده اوپه دی اړه یې داهسی وویل : «ناټوپه خپل وخت کې یې ویلی ووچې سړه جګړه پای ته رسیدلی دی اوناټوددی سازمان دبدلون اواصلاحات بهیریې شاته غورځولی دی . اوسمهال دغه سوال پرخپل ځای پاته دی چې څرنګه به دغه بلاک اونظامی تړون دنړیوالومسایلوپه اړه دملګروملتونودامنیت دشوراسره مرسته به ولري؟ ترکومی اندازي پوری منل سوي هوډونه دبلاک دغړیوپه وسیله دملګروملتونودامنیت دشورا په وړاندی دناټودهغه کیدونکی پیل سره متناسب دی،چې ناټوهغه ترسره کوي ،دهغه جملی څخه دیوګسلاویا بمباردیدل اویا دکوزوديوه اړخیزه رسمیت پیژندلوڅخه عبارت دي . /**

(نوربیا،په پنځلسمه برخه کې ادامه لري) اخیځلیک : د راوی نیوزاونووستی څخه